

# ټاکنې

- د متحده ایالاتو اتباع به د 2024 کال نومبر پر ۵ ولسمشریزو ته نوماندو او نورو چارواکو ته چې ځانونه یې کاندید کړي وي رایې ورکړي. پر دغه ورځ تاسې ممکن د خلکو اوږده قطارونه هم وګورئ چې رایې ورکولو ته به انتظار کوي. رایې اچونه په عامه ملکیت یا کنټرول شوي ځایونو لکه ښوونځي، د اور وژنې ځایونو او کلیساګانو کې تر سره کیږي.

- د رای اچولو تر ورځې پورې ممکن سیاسي پیغامونه تر لاسه کړئ یا درسره په تیلیفون اړیکې ونیول شي، او هم د کمپاین څخه خلک ستاسو دروازه ټکوي. تاسې اړ نه یاست چې ځواب ورکړئ.

- د مهربانۍ له مخې په یاد ولرئ چې که د متحده ایالاتو تابعیت ونه لرئ نو قانوني نه ده چې رای ورکړئ یا رای ورکولو لپاره نوم لیکنه وکړئ.

- امریکایان ولسمشرۍ ته د کاندیدانو (ډونالډ ټرمپ یا کامالا هاریس) په اړه قوي احساس کوي.

- تاسو ممکن د خلکو لخوا ډلې ډلې غونډې وګورئ چې د ټاکنو څخه مخکې یا وروسته د خپل نوماند لپاره ملاتړ څرګندوي.

- تاسو ممکن د لاریون یا لمانځلو په موخه په لوی تعداد کې د خلکو راټولیدل ووینئ. نو مهرباني وکړئ په لویو غونډو کې احتیاط وکړئ. که چیرې تاسو د لاریون کولو پربکړه وکړئ نو لطفاً یوازې مه ځئ او لاندې توکي یوسئ: اوبه، پیژندنې کارت او د بیړنې تلیفون شمیرې.

- که چیرې تاسو سمدستي له ګواښ سره مخ یاست یا د پرغل قرباني یاست، نو لطفاً 911 ته زنګ ووهئ. کله هم چې تاسو خوندي ځای ته ورسیږئ نو لطفاً IRCسره اړیکه ونیسئ تر څو درته اضافي ملاتړ چمتو کړي یا درسره د پولیسو راپور په چمتو کولو کې مرسته وکړي.

*Source: IRC U.S. Resettlement*
*October 2024*